پردیس سباکی خیل ۲۰۱۶/۰۹/۲۲

# ادبی غلا

# (Plagiat"پلَژییه")(۱)

څو ورځې د مخه مې د افغان جرمن آنلاین په وب پاڼه کې د ښاغلی زیرکیار مطلب د "د ځناورو واکمني او یرغل خان" د سریځې لاندی تر سترګو شو. ما غوښتل په هماغه وخت یو څه پری ولیکم ، خو له یوی خوا د وخت د نشتوالی له کبله او له بلی خوا دغه مضمون ته د توجه د نه راګرځولو له کبله می تری ډډه وکړه ،. خو په خواشینی سره دا ده یو ځل بیا دا بی سر او پښی لیکنه د آریانا افغانستان آنلاین د درنی ویب پاڼی له لیاری خپره شوه.

زه د ادبیاتو او تاریخ د یو زده کوونکی په توګه هر کله او د هر چا لیکنی لولم او ډیر یی هم په خیر لولم. زه داسی ګمان کووم چې ګنی موږ افغانان داسی ډاکټر صاحبان او نوماند-علامه ګان، پوهاندان او د پوهنتون استادان لرو چې له خپلو دری مِتریزو القابو سره به موږ ته یو څه را زده کړی . خو په خوا شینی سره لیدل کیږی چې دا درست د لستونی ماران او زاړه کوړان په ظاهره پنډ پنډ کتابونه، لیکنی او په اصطلاح خپلی تجربی د موږ پر مخ راڅښتي خو په حقیقت کې همدوی دی چې په خپلو تشو ککریو سره د افغانستان د نن او سبا ځوانان له لاری باسی او د علی آباد په لوری یی ور دروموی. دوی په ډیره غیر مسئولانه توګه واقعیتونه تحریفوی، تأریخ مسخه کوی او ګمان کوی چې ګواکی د افغانستان د خلکو په مازغو باندی د ایرو په پاشلو، ګواکی خپلو شومو اهدافو ته رسیدلی دی.

لوستونکی دی ما وبښی چې دا پورتنی خبره می وکړله خو دا ځکه چې د ښاغلی زیرکیارله املایی او انشایی تیر وتنو او له ستونزو ډکه لیکنه چې متن یی هم د هیڅ یو خواخوږی افغان لپاره د زغملو وړ ندی ، د دوهم ځل لپاره تر سترګو شوه، نو زه یی مجبوره کړلم چې دا مات قلم را واخلم او د خپل زړه براس پری وباسم.

<u>ته زیرکیار</u> په ۲۰۱۶/۰۷/۳۰ نیټه د ادبی غلا په هکله ، په خپل مضمون کې داسی کاږي :" ځیرن غلا (ادبي غلا) د بل چا په وینا اویا مفکوري خیټه اچول دي" ... د ځیرن غلا (پلجیریزم) نوم له لاتین نه راوتلی دی چې معنا يي تښتول (غلا) ده. اوس مهال په ګوګل کي ځیرن غلا داسي تعریف شوي ده:" د یو بل چا لیکنه او یا مفکوره خپله ګڼل یا په بله وینا له یوي موجودي چیني(منبع) نه نوي او اصلي مفکوره اویا وینا په ځان پوري ترل ځیرن غلا ده او غلا جزا لري".

---

۱- این کلمه فرانسوی است، در زبان انگلیسی آنرا (پلجیریزم یعنی سرقت ادبی ) می گویند. «سرقت نوشتهٔ نویسندهٔ دیگر، سرقت بخش هایی از کتاب کس دیگر، بخش های از مطالب منتشر شده از مولف دیگر که همه ارتکاب جرم اخلاقی خوانده و قابل تعقیب عدلی است. این کار نامطلوب و نادرست و غیر اخلاقی در آثار بسیاری از نویسندگان افغان حتی تاریخ نویسان آماتور و غیره دیده می شود. (اداره)

ته ښاغلیه زیرکیار صاحبه! دا چی "ځیږن غلا" د "ادبی غلا" مانا لری او که نه او یا دا چی د "ځیږن غلا" اصطلاح دی بیا له کومه را و ویسته، ستاسو د لغت جوړونی د فابریکی د نورو محصولاتو په ځیر ورباندی غړیدل او ځیړل د وخت ضایع کول دی او اوس یې وخت هم ندی. زه حیران یم چی اول خو تاسی چی د پښتو لیکنو د پښتونیزی کولو مجاهد له ځانه جوړ کړیَ دیَ نو څنګه او ولی مو په خپله دغه لیکنه کی په زیاته کچه عربی لغات په کارولی ان تر دی حده چی د پښتو تر څنګ دی په قوسینو کی عربی مانا ور زیاته کړې ده لکه "چینې(منبع)"، چی بیا په خپل وار همدا هم غلطه ده یا به دی "چینه" ویلی وو او یا "منابع". ستاسی املایي او انشایی تیر وتنی دومره زیاتی دی چی راځی د هغو له خیراته هم تیر شوو او اوس د چا سر پری و نه خوږ.وو. راځو به اصل مطلب ته:

د "د ځناورو واکمني او یرغل خان" کیسه چی تاسی فرمایلي "دا راپورټ اصلا د انګریز لیکوال جورج اورویل په حکایت ( د ځناورو فارم، ۱۹۴۵زییز) راځرخي ــ په هغه حکایت چې واقعاً پیښ شوی و او بیا لړ و ډیر په افغانستان کې کوپي شوی و. ماپه دغه راپورټ کې خال خال د افغانستان د اته دیرش (۳۸) کلنو اوښتنو او کرغیړنې وضعې په اړه خپل مرچ مساله ورزیات کړي دي او پښتو نومونه مې پکې کارولي دي" .

د حیرانتیا ځای دی چی زیرکیار صاب د انګریزی "جورج اورویل George Orwell " د کتاب لنډیز کټ مټ له انترنټ را اخلی او وروسته له ژباړی، تصرف، تحریف او اضافاتو د خپل نوم لاندی نشروی او بیا وایي " دا راپورټ اصلا د جورج اورویل په حکایت راځرخي؟؟؟" آیا دا کار ادبی غلا او" د بل چا په وینا اویا مفکورې خیټه اچول" نه دی؟ تا د جورج اورویل په وینا او مفکری خیټه ور اچولی ده، زیرکیار صاحب!

د "د ځناورو فارم"په نامه کتاب د هغه د لیکوال تخیل دی، نه <u>واقعي پیښه</u> او د هغو پیښو انعکاس دی چی په ۱۹۱۷ ز کال کی په روسی انقلاب واوښت او نتیجه یی په شوروی اتحاد کی ستالینستی دوره شوله، نو د جورج اورویل په مفکوری او وینا چی <u>تا زیرکیار</u> "خیټه پری اچولی" درست کمونستی غټان له مارکس نه نیولی بیا تر لینین او ستالینه پوری ځناور، او پخوانیَ روسیه او حتی اروپا د هغو د فارم په بڼه انځور سوی دی. دا پیښی او خوځښتونه د افغانستان له پیښو او خوځښتونو سره په تیرو ۳۸ کالو کی غیر له دینه چی په یوه برخه کی یی کمونستان ښکیل ول، نور ډیره کمه ډډه لګوی او ډیر توپیر لری.

ستاسی لیکنه د یوې ښی لیکنی او علمی کامپوزیشن له اصولو څخه هم بی برخی ده، وګوری پاس، تاسی وایاست چی "دا حکایت واقعاً پیښ شوی". کوم حکایت؟ د ځناورو له خوا د انسانانو شړل. او یا د کمونستانو را تګ ؟... د دغه <u>حکایت</u> واقعیت خو دا دی چی ځناور و انسانان پسی اخیستی و او شړلی یی وو، خو ستاسو لیکنه یی داسی تمثیلوی چه دغه پیښه په رښتیا واقع شوی ده. مګر یقیناً ستاسو منظور باید کمونستی انقلاب وی چی واقعاً پیښ شوی او په دغه حکایت کی تمثیل شوی دی نه پورتنی پیښه.. دا په خپله د لیکوال کمزورتیا څرګنده کړی ده.

د "د ځناورو واکمني او یرغل خان" د عنوان لاندی ستاسو لیکنه څرنګه چی ښکاری په ډیره ټیټه سویه لکه چی د یو ماشوم له خوا نورو ماشومانو ته لیکل شوی وی دلته خپره شوی ده. په دی لیکنه کی تا ښاغلی، د افغانستان سپیڅلی نوم ته او له اعلیحضرت امان الله خان نه نیولی بیا تر نن ورځی د افغانستان ټولو واکمنانو ته داسی سپکاوی کړی چی ګواکی افغانستان ځناورستان او درست واکمنان یې خوګان [خوکان]، سپیان، خره ، بزه [وزه] او اسان ول. ښایی دغه موضوع د لویدیزو هیوادونو په دودونو او کلتورونو کی د منلو وړ وی، لکه څنګه ځی "خر" د امریکی د ډیموکراټانو حزبی سمبول دی ، خو په افغانی دود کی د داسی تشبیهاتو راوستل لویه ګناه ده. او جالبه دا ده چی د خپلی دغی میتافوریکی "Metaphoric" لیکنی په پای کی له لوستونکی څخه غواړی چی په دغه مطلب کی له دغو پورتنیو

ځناورانو څخه منظور د افغانستان کوم کوم واکمنان دي؟ زه نشم کولی چې د ستا ښاغلي دغه بې ځایه سوال ته ځواب ورکړم ، ځکه چې لکه ما ، بل هیڅ افغان به و نه شي زغملی چې د امان الله شاه مترقیو هلو ځلو ته "خرَپ او ترَپ" ووایي اویا د یوو نوی نظام مؤسس، چې پر ډیرو هیواد والو ګران هم دی خوګ [خوک] ته تشبیه شي. دا د ستا زیرکیار ډیره زیرکانه چلوټه ده چې افغانان تیر باسی او مجبوروی چې هم ځانته، هم خپل هیواد ته او هم خپلو واکمنانو ته، هر څوک چې وي سپکاوی وکړی.

زیرکیار صاب! ستا د "«عقل پروف» یاني عایق العقل او دفع الفکر" مبتکرانه عبارت، نه په عربی کی ،نه په پښتو کی نه په دری کی او نه په نورو ژبو کی، که وژباړل سی، د پوهیدلو وړ دی او د مثبته علومو د اصولوپه پر بنسټ بیخی نا وړه ، نا سمه او غلطه خبره ده او نه کوم علمي یا منطقی/فلسفی او حتی وګړیز مفهوم ارائه کولی شی یواځی سړی ګمان کولی شی چې یو څه به د عقل او فکر د نشتوالی په هکله وی.

زه پوه نشوم چې تاسو ولی خپل نوم کله په "ز" او کله په "ځ" لیکئ؟ د زیرک کلمه دری ده او هغه چا ته ویل کیږی چې خورا هوښیار وی او وړو شیانو ته يې داسی پام وی چې هیڅ څه نه ورنه خطا کیږی. خو موږ په پښتو کی "ځیرک"نه لروو او یواځی " ځیر" د دقت، او توجه مانا لری چې په هیڅ ډول له زیرک سره ډیډه نه لګوی. یواځی د " ز" بدلول په "ځ" تاسی دری "زیرک" پښتونیزه کولی نشی.

په پښتو ژبه کی ستا بی ځایه بی استناده، نا مأنوسه ، بی اساسه او بی ریښی لاس وهنی، په داسی حال کی چی ته له مبتدا او خبر نه نیولی بیا تر عمومي ګرامر(املاء او انشاء)، بدیع او بیان او صرف او نحوی پوری په خپلی ککری کی څه نه لری د ډیری اندیښني وړ دی. لرې به نه ځو، ستا همدا د "ننتوځ" کلمه چی ما له هر چا وپوښتله، د چا سر پری خلاس نه شو او په غیر د تاسو له لیکنو نور په هیڅ ځای کی نه لیدل کیږی. دا او ستا نور ژبنی اختراعات د فارسی ژبی د "چالش" د کلمی په څیر د هغی د نا مأنوسه او نا متجانسه ا و بی بنسټه ماهیت له کبله د زغملو نده. ستا لیکنی داسی بریښی چی ګواکی د پښتو پر ضد د پردیو په لاسپوځي بوخت يي او د موږ په ژبه ملنډی وهی . ، او که دا نه منی مه یی منه خو مهربانی وکړه پښتو پریږده "بَرو" پښتنو ته چی اصالت يي وساتی .

ډاکټر صاحب آیا تر اوسه تاسو ته چا نه دی ویلی چی ولی د خپلو لیکنو په هر پراګراف کی د ګرامری نورمونو پر خلاف، خپل نوم ور تومبي؟ آیا دا، ستا د تکبر، خپل ستاینی او ځان پیرسونی په مانا نده؟ دا خو لا پریږده چی یواځی په خپل نوم هم اکتفا نه کوی او د " زه" ضمیرهم پکی ورګډوې او وایی "زه زیرکیار" ... لکه چی الله (ج) د قران کریم په شریفه آیاتو کی وایی "زه الله"، ... آیا ستا دا عمل، داسی نه بریښی چی نعوذُ بالله د خدایي دعوا لری او که څنګه؟ او که نه یی لری د همغه خدای په لحاظ د تکبر د ځناور له پاسه را کوز سه او داسی مه ګڼه څی ګواکی دا نور خلک، درست ځناور دی او یواځي ته یي د عقل او فکر خاوند. هغه لیکنه چی لوستل يي ګران وی او د بی بنسټو لغاتو په مانا يي د چا سر نه خلاسیږی د هغی د لیکوال لوړه پوهه نه بلکه د لیکنی ټیټه سویه ده. داسی لیکنی به څه په درد وخوری چی څوک پری پوه نشی.

په درناوی

پ. "سباکی خیل" - ۲۲سپتمبر ۲۰۱۶